UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتي اعلامیه
http://unama.unmissions.org

## د تکتیکونو تغیر د ۲۰۱۱ کال په لومړی نیمایی کی په لوړه کچه د ملکی وګړو د تلفاتو لامل شوی

ځمکنی ماین ته ورته" د فشار په پایله کی ځاي پرځاي شوی چاودیدونکی توکی" یو مرګونی او ټکان ورکونکی بدلون دی

**د ۲۰۱۱ کال د جولایی ۱۴ ، کابل ــ** ۲۰۱۱ کال په لومړی نیمایی کی په افغانستان کی د وسلوالو شخړو سره په تړاو کی د ملکی وګړو تلفاتو کی د ۱۵ سلنی لوړوالی راغلی ، په افغانستان کی د ملګرو ملتونو مرستندویه هیئت (یوناما) نن د ۲۰۱۱ کال په وسله واله جګړو کی د ملکی وګړو د ساتنی د شپږ میاشتنی راپور د خپریدو پر مهال وویل. د دی ډراماتیک لوړوالی لامل د دولت ضد عناصرو لخوا د چاودیدونکو ځاي پر ځاي شوی توکی دی چی د فشار په نتیجه کی انفجار کوی.

یوناما د ۱،۴۶۲ ملکی وګړو مړینه ثبت کړی، له دی جملی څخه ۸۰ سلنه یی دولت ضد عناصرو ته منسوب شوی چی د ۲۰۱۰ کال د عین موده کی دولت ضد عناصرو ته منسوب په پرتله ۲۸ سلنه لوړوالی څرګندوی. بل لوری ته د دولت پلوه ځواکونو ته د ملکی تلفاتو ۱۴ سلنه منسوب شوی د ۲۰۱۱ کال د همدی وخت په پرتله ۹ سلنه ټیټوالی ښیی، خو د ملکی وګړو شپږ (۶) سلنه په جګړه کی ښکیلی هیڅ یوی خوا ته ندی منسوب شوی.

د ۲۰۰۷ کال را په دیخوا، له کومه وخته چی یوناما په منظم ډول د ملکی وګړو تلفات ثبتول پیل کړی، د ۲۰۱۱ کال د مئ میاشت د ۳۶۸ ملکی وګړو د مړینی له امله ترټولو مرګانی میاشت وه. د ۲۰۱۱ کال د جون میاشت کی ۳۶۰ ملکی وګړو مړینه درج شوی - چی له دی جملی ۳۰۸ یعنی ۸۶ سلنه یی دولت ضد عناصرو ته ، د ۱۸ ملکی ګړو مړینه یا پنځه (۵) سلنه دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوی، او پاتی ۳۴ یا ۹ سلنه یوی ډلی ته هم نده منسوب شوی.

د دی سره د جون میاشت د بل هر وخت په پرتله د یو میاشت پر مهال تر ټولو زیات د نا امنی او ډیر شمیر د ځاي پرځاي شوی چاودیدونکو توکو د بریدونو شاهده وه.

" د افغان ماشومانو، ښځو او سړو وژنه په حیرانه ونکی توګه ادامه لری" د افغانستان لپاره د د ملګرو ملتونو د سرمنشی ځانګړی استازی ډی میستورا ویل.

د ۲۰۱۱ کال په لومړی نیمایی کی د دولت ضد عناصرو لخوا ځایی پر ځای شویی چاودیدونکی توکو او ځان وژونکو بریدونو تکتیک د ټول ملکی تلفاتو سم نیمایی (۴۹ سلنه) د مرګ ژوبلی لامل شوی دی. د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په پایله کی د ملکی خلکو مړینه د ۲۰۱۰ کال د عین مودی په پرتله ۱۷ سلنه لوړوالی په ګوته کوی، او ځایی پر ځایی شوی چاودیدونکی توکی د ۴۴۴ ملکی خلکو د مړینی له امله د ۲۰۱۱ کال په لومړی نیمایی کی د ملکی افغانانو لپاره یواځینی تر ټولو ډیر وژونکی تکتیک دي، چی د ۳۰ سلنه ملکی وګړو د مړینی لامل ګرځیدلی دی.

د دولت پلوه ځواکونو له لوری هوایی بریدونه د ملکی تلفاتو د عمده لامل ګڼل کیږی چی ډیر شمیر یی هیلیکوپترونو ود برید په پایله کی رامنځ ته شوی. د ۲۰۱۱ په لومړی نیمایی کی ۷۹ ملکی کسانو مړینه د هوایی بریدونو په پایله کی رامنځ ته شوی او دا شمیره د ۲۰۱۰ کال د لومړی نیمایی په پرتله ۱۴ سلنه لوړوالی څرګندوی. د ۷۹ملکی مړینی څخه

د ځمکنیو جګړو او وسله والو نښتو په نتیجه کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله د ۲۰۱۱ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ۲۰۱۰ کال د همدې مودې په پرتله ۳۶ سلنه لوړه شوې ( د ۳۰۴ ملکي تلفاتو څخه ۱۸۸ دولت ضد عناصرو ته، ۶۶ دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي او پاتې ۵۰ ملکي وګړي د ښکیلو خواو د دړزو په پایله کې وژل شوي. د شپې له خوا د تلاشي عملیات د دوه سلنې ملکي تلفاتو لامل شوي، چې د ۲۰۱۰ د لومړۍ نیمایي په پرتله کم ټیټ والی څرګندوي. یوناما د ۲۰۱۱ په لومړۍ نیمایي کې د شپې له خوا د تلاشي عملیاتو په پایله کې د ۳۰ ملکي خلکو مړینه درج کړې ده.

د جولایي په میاشت کې د نړیوال ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د هیواد په ځینو برخو د امنیت د لیږد سره د ۲۰۱۱ کال په لومړۍ نیمایي کې تاوترخوالي کچه لوړه شوه، چې دولت ضد عناصر پدې لټه کې دي چې دا وښیي، چې ګوندي افغان ځواکونه په یوازې ځان د امنیت ټینګولو وړتیا نه لري. د مختلفو وسله والو ګروپونو سره یو ځای دوی هڅه کوي چې د سولې او پخلاینې بهیر زیانمن کړي، چې په شخړه کې ښکیل لورو د نښتو په پایله کې د افغانان ځانونه خوندي نه ګڼي.

د یوناما تحلیل دا ښیي چې د دولت ضد عناصرو تکتیکونو کې بدلون د ملکي افغانانو پر ضد بریدونه لا نور زیات ترینګلي او پیچلي کړي.

" دیوناما لپاره د بشري حقونو مشري جورجټ ګنیون ویل، د دولت ضد عناصرو د ۲۰۱۱ کال پر مهال د ناقانونه جنګي وسیلو او ذرایعو کچه پراخه کړې، چې په ځانګړي توګه د قرباني سره د تماس او فشار سره چاودیدونکي توکي چې د ځمکني پرسونل ضد ماینونو ورته عمل کوي، او د ملکي او نظامي هدف تر منځ توپیر کولایي نشي." دا تکتیک د افغانانو د ژوند اساسي حق، او د نړیوالو بشردوستانه قوانینو د اصول نه سرغړونه ده، چې د جګړې ټولې خواوې په دې مکلفوي چې د جګړې پر وخت د ملکي وګړو مرګ ژوبله حد أقل کچه کې ساتلو ته بشپړه پاملرنه وکړي".

په افغانستان کې ټول کاریدونکي چاودیدونکو توکو څخه دوه پر دریمه برخه، چې ګڼ شمیر یې ملکي وګړي وژني، داسې جوړښت لري چې د ۱۰-۱۰۰ کیلوګرامه وزن له امله وچوي. دا د یو انسان وزن دی چې زیاتره ماشومان هم دغه وزن لري چې په بل عبارت داسې چاودیدونکي توکي د درند پرسونل ضد ماین په څیر عمل کوي .
ګنیون وویل: "هغه ملکي وګړي چې په دې چاودیدونکو توکو خپله تیریږي او یا نقلیه واسطه چلوي د خپل ځان نه د دفاع توان نه لري او د ژوندي پاتې کیدلو ډیر کم امکان یې لیدل کیږي". " د طالبانو د هر فرد لخوا د فشار سره چاودیدونکي وسیلې استعمالوي د طالبانو د ځمکني ماین د بندیز د ۱۹۹۸ اعلامیې څخه سرغړونه کوي . یوناما د طالبانو څخه غوښتنه کوي چې په علني توګه دې د دې وسلود نه استعمال ته خپل تعهد تکرار کړي.

د ملکي افغانانو په نښه شوي وژنې د تیر کال په شان په لوړه کچه دوام پیدا کړی. د ۲۰۱۱ کال د جنوري او جون تر منځ کې یوناما ۱۹۱ په نښه شوي وژنو پیښې ثبت کړي دي ، خو د ۲۰۱۰ کال په عین مودې کې ۱۸۱ په نښه شوي وژنو پیښې ثبت شوي وې. یوناما د دولت ضد عناصرو نه غواړي د (ملکي) لفظ مفهوم د نړیوال بشردوستانه قانون په رڼا کې تعبیر کړي. د نړیوال بشر دوستانه قانون له مخې ملکي وګړي هغه څوک دي چې جنګیالي نه وي ( نظامي یا نیمه نظامي ځواکونه ) یا په جګړه کې د ښکیلې خواوې د یو منظم وسلوالي ډلې غړي وي. وسلواله ډلو لپاره دا اړینه ده د عملیاتو په دوران د جنګیالو او ملکي وګړو توپیر وکړي او ملکي وګړي ( څوک چې په جګړه کې فعاله ونډه نه اخلي) په هیڅ ډول د خپلو بریدو هدف ونه ګرځوي.

ډي میستورا وویل: مجموع کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله، صرف نظر له دې چې څوک یې مسؤول دي، د کورنیو او ټولنو پر ژوند غمجن او تل پاتې اثر غورځوي. ملکي وګړي به په افغانستان کې هغه وخت ګټونکي وي چې په بشپړه توګه د ملکي وګړو تلفات را کم شي.
یوناما په جګړه کې د ښکیلو خواو په کلکه غواړي چې لا زیاته هڅه وکړي چې د ملکي وګړو ته درناوی وکړي، د ملکي وګړو ساتنې ته زیات پام وکړي او د خپلو قانوني مکلفیتونو سره ځان برابر کړي تر څو چې ملکي تلفات او ملکي ټولنو ته زیان اړول راټیټ کړي.

انتخاب شوی نقل قولونه د افغان ملکی وګړو څخه:

"سهار و او زه په کور کی وم چی دا پېښه وشوه. ځما لور او ځما دوه وریری د یو عالم څخه د قرآن کریم د زده کړې لپاره مدرسی ته روانی وی. کله چی هغو له کوره وتل، ما لیدل چی د هغوی په لاسونو کی قرآن کریم و. هغوی خوشحاله ماشومان وو او تل به یی ما ته ویل چی کله دوی لویی شی نو غواړی چی ډاکترانی شی چی د خلکو او د خپل مور او پلار خدمت وکړی. له چاودنی څخه وروسته زه خبر شوم چی ځما لور او دواړه وریری ټپی شوی دی. مونږ هغوی روغتون ته یووړلی خو ځما د یوی وریری ټپونه ډیر جدی وو او په حق ورسیده. نورو دوو ماشومانو به ځما نه د هغی په هکله پوښتل او ما به ورته ویل چی هغه ښه ده او کور کی ده، خو حقیقت خو دا دی چی هغه نوره د هغویی سره نشته او دوی بیا نه سره لوبی کولای شی او نه هم ښوونځی ته تلای شی. دا ماشومان د جګړی د هیڅ پلو سره تړلی نه وو، دوی د خپلی راتلونکی په هکله امیدونه لرل، خو دی بیهوده جګړی له دوی څخه د دوی د راتلونکی امیدونه او ژوند واخیست."

د خوست ولایت څخه یو قومی مشر چی د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۱۵ مه یوی چاودنه کی د خپلی لور او وریرو (چی ۱۰ او ۱۲ کاله عمرونه یی وو) مرګ او ټپی کیدل بیانوی.

"طالبان هر کور ته چی وغواړی په زوره ورځی. وروسته بیا له هغی کور څخه ډزی کوی او بیا آیساف او ملی اردو پر هغه کور ډزی کوی. خو که زه طالبانو ته ووایم چی ځما کور ته دی نه راځی، نو طالبان به ما ووژنی. نو ځواب به څه وی؟ یا به آیساف ما وژنی او یا هم طالبان. خلک په دی شکل ژوند نه شی کولای ."

د ۲۰۱۱ کال د جون میاشت ، هلمند د مارجی ولسوالی یو قومی مشر سره د یوناما مرکه.

**د افغانستان لپار د ملګرو ملتونو مرستندویه هیئت ( د یوناما ) د ۲۰۱۱ کال د ملکی وګړو د ساتنی شپږ میاشتنی راپور پر مهال په جنګ کی ښکیلو خواو لپاره لاندی سپارښتنی لری.**

**د حکومت ضد عناصرو ته**

- د نسبیت، تفکیک او احتیاط اوصولو په شمول د نړیوالو بشر دوستانه قوانینوته احترام او د متابعت له لاری د ملکی وګړو د مرګ ژوبلی مخنیوی وکړی.
- د (ملکی) لفظ مفهوم د نړیوال بشردوستانه قانون په رڼا کی تعبیر کړی. سم له واره د ملکی وګړو په نښه کول او وژل بند کړی چی دوی د نړیوالو قوانیو له مخی له هر ډول برید څخه خوندی ګڼل کیږی او همدا شان هغه ټول اوامر او لارښودنی دی بیرته لغو کړی چی د ملکی وګړو وژلو ته جواز ورکوی.
- پر روغتونونو بریدونه بند کړی.
- د فشار په واسطه فعالیدونکو چاودیدونکو توکو استعمال بند کړی او خپل پلویان دی د هغوی له استعمال څخه منع کړی، او په علنی توګه دی د دی ډول نا قانونه وسلو د نه استعمال ژمنه وکړی. په علنی ډول دی طالبان د ۱۹۹۸ دطالبانو د ځمکنی ماینونو په استعمال بندیز اعلامیه بیا اعلان کړی او ټولو پلویانو ته دی د تنفیذ لارښودنه وکړی.
- داسی طرزالعملونه او هدایات دی نافذ او عملی کړی چی پر ملکی وګړو بریدونه منع کوی، او د حکومت ضد عناصرو هغه غړو سره دی احتساب وکړی چی ملکی وګړی وژنی یا ټپی کوی.
- د یوناما سره دی د ملکی تلفاتو په هکله د خبرو اترو او معلوماتو شریکولو په برخه واخلي.

**د افغانستان حکومت ته**

- یو مسلکی دولتی کمیټه دی جوړه شی چی د ملکی تلفاتو پیښنو راپور ته د ځواب ویلو او د پلټنو واک ولری.
- د آیساف د ملکی وګړو د تلفاتو د تعقیب ځانګی په ډول دی د ملکی وګړو د تلفاتو د تعقیب کمیټه جوړه کړی تر څو وکړای شی چی د افغان امنیتی ځواکونو لخوا د ملکی تلفاتو تعقیبول ډاډمن کړی، له تیرو کړنو څخه درس واخلی، او د ملکی وګړو ساتنی، جبران، او حساب ورکولو ته وده ورکړی.

- د نړیوالو وسله والو ځواکونو سره دی داسی تدابیر طرح او پلی کړی چی د هغه ملکی وګړو د وژل کیدلو مخنیوی وکړی چی د وژلو زیات خطر یی شته.
- د افغانستان د امنیتی ځواکونه ته دی ( ملی پولیس او اردو ) د نړیوال بشردوستانه قانون او بشری حقونو په هکله لازمه روزنه ورکړل شی او دا روزنه دی د افغانستان د ملی ځواکونو د تربیت او روزنی لازمی برخی په توګه شامل شی.
- د ګڼی ګوڼی د کنټرول په برخه کی دی افغان امنیتی ځواکونو په ځانګړی روزنه او وسایلو سنبال کړی د وژونکی قوی د بدیل شمول. د داسی بدیلونو قانونی او معیاری تطبیقول دی د مناسب ټریننګ له لاری ډاډمن کړی.

**نړیوالو وسله والو ځواکونو ته**

- د نظامی عملیاتو د پلان کولو او تطبیق په جریان کی دی ټول ممکن احتیاطی تدابیر ونیسی چی د ملکی وګړو د مرګ، ټپی کیدلو او یا د ملکی شیانو د تخریب امکان کم کړی. سم لاسی او په بشپړه توګه دی نوی لاربښودوني تطبیق کړی.
- ډاډمنه دی کړی چی د هلیکوپټرونو ټوله عمله د ځواک د استعمال د تکتیکی لاربښودونو په برخه کی په سمه توګه تربیه شوی او په ټولو نږدی جنګی مأموریتونو کی دا تکتیکی هدایات د هلیکوپټرونو د عملی له خوا عملی کیږی. تحقیقات دی وکړی چی د آپاچی هلیکوپټرونو په عملیاتو کی د ملکی وګړو تلفات ولی مخ پر زیاتیدو دی او هغه بدلونونه دی عملی کړی چی د ملکی وګړو ساتنه او خوندی کول لا ښه کړی.
- د ۲۰۱۰ کال د جنوری په د ۲۳ مه نیټه صادر شوی "د شپی له خوا د تلاشی عملیاتو تکیتیکی لاربښودنی" ته دی بیا کتنه وکړی تر څو ډاډمنه کړی چی د دی هدایت د ټولو ټکو عملی کول په هر عملیات کی اختیاری نه بلکه کی لازمی دی. ډاډمنه دی کړی چی د شپی د عملیاتونو په اړه هر نوی هدایت د داسی عملیاتونو د ملکی تلفاتو د تداوم په سبب لا زیات محدودیتونه وضع کوی او د شپی له خوا عملیاتونو کی دی مشری د افغان امنیتی ځواکونو له خوا کیږی او نهایی هدف یی د عملیاتو"افغانی خاوندتوب" دی.
- د دی ډاډ دی ورکړی چی ټول ځواکونه د قوتونو د ساتنی تکتیک، تخنیک، او معیاری طرزالعملونو کی پوره روزل شوی دی. پوستی او د چیک غبرګون ځواکونه دی د وژونکی وسیلو پر ځای په نورو بدیلو وسایلو سمبال کړی. د ملکی خدماتو د ابلاغ یوه نوی دوره دی په ځانګړی توګه د راډیو له لاری پیل کړی تر څو چی ډاډمنه کړی چی ټول ملکی افغانان د خاصو چیک پوستونو او د قطارونو د طرزالعملونو څخه با خبره اوسی.

---